# Pakhtunkhwa پښتونخوا

## دپښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند خپرونه


۱۷ مه ګڼه ۱۹۹۶ کال

Jahrg./vol:1996/10 nummer/ no: 17


## PASHTOONKHWA / PASCHTUNCHWA

ORGAN DER SOZIALDEMOKRATISCHEN
Paschtunchwa/Afghanistan- PARTEI DER PASCHTUNEN

ORGAN OF THE PASHTOONS SOCIAL
DEMOCRATIC PARTY (PSDP) - Pashtunkhwa/Afghanistan


www.pashtoonkhwa.com
pashtoonkhwa@gmail.com
psdp@gmx.net





## V.S.I.P / Responsible for contents

DR. KABIR STORI
RICHARDSTR. 5
50389 Wesseling - Germany
Tel.: 0049 2236 83463



## Editorial Board /Redaktion د خپرونې جرګه:

| | |
|---|---|
| Ali Khan Mahsood | علي خان محسود (مسیږ) |
| Hedayat Bangash | هدایت الله خان بنګش |
| Mabariz Zapi | خان محمد مبارز ځاپی |
| Aziz Sarshar | عزیز سرشار |
| Nasir Stori | نصیر ستوری اپسپزی |
| Gul Ghutai Kunarai | ګل غوټۍ کونړی |

سرلیکونه او لیکوال — مخ


امیر عبدالرحمن خان او د ډیورنډ تړون — ۲
پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ «امریکا»

یووالی «شعر» — ۱۰
ډاکټر الف کاسی خیل «کاناډا»

قومیت او ملت ... پاتې برخه — ۱۴
محمد افغان «اباسین»

د وطن ارمان «شعر» — ۱۷
خوشحال «انځور»

نوې زیرې — ۱۸
جنرال عبدالنصیر ستوری

وسیو «شعر» — ۲۴
بیوک «دقیق»


خپرونکی: د پښتنو ټولنیز اولسولیز ګوند
پښتونخوا / افغانستان

Herausgeber : SOZIALDEMOKRATISCHE PARTEI DER PASCHTUNEN
PASCHTUNCHWA / AGHANISTANITAN
PUBLISHER : PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY
PASHTOONKHWA / AFGHANISTAN

زمه وار
V. S. I. P.
RESPONSIBLE FOR CONTENTS
DR. KABIR STORI
RICHARDSTR.5
50389 WESSELING
GERMANY
TEL. : 02236 / 83463
FAX : 02236 / 841930

Redaktion
Editorial Board

Ali Khan Mahsood
Hidayat Bangasch
Mabariz Safi
Aziz Sarshar
Abdul Nasir Stori
Gulghutei Kunarei

د خپرونې جرګه:
علیخان (محسود)
هدایت (بنګش)
مبارز (صافی)
عزیز (سرشار)
نصیر (ستوری)
ګل غوټۍ (کونړی)

احساس عام او قوي شي چې تلپاتې اثار شي، محلي او بین المللي کړکیچ د هغه عمده عناصر ګرځېدلي دي. شاید بل هیڅ قوم د انګریزي استعمار په مقابل کښې په دغسې د وام لرونکي او میړاني سره مقاومت نه وي کړی.
د "د پورنسد" د تړون او کرښې نه پیدا لا نجه تر اوسه هم موجوده ده او فیصله غواړي.

ډاکتر الف کاسي خیل
کاناډا

## پووالی

د غیرت ستوري اوچت ئې تر اسمان دي
ځکه هرځای چې پښتون دي ماته ګران دي
انګریز، روس هندو میړانه ئې لیدلې
پاتې نوم تل په نړۍ کښې د افغان دي
دښمنان کمونږ په هر یونامه ستائې
مګر مونږ ته پښتونخوا زمونږه ځان دي
خدای به راوړي، بخت وید مومونږ بیوېښي
غزې تول د یو بدن او یو انسان دي
پښتانه په هندوستان، جرمن انګلیند کښې
خیر که پروت غریب په خاورو کښې کمځان دي
د اسې نور د امریکا سویس کاناډا نه
سعودي استرالیانه یو بهان دي
د ناروې نه تر ایران او پاکستانه
پښتنو ته هرځای غږ مې په داشان دي
مونږ ازاد قوم غلا مې د هیچا نه کړو
تول تاریخ مونږ لرزولې د جهان دي
زمونږ ژبه نور ګوموره میلمه پالنه
صداقت توره پښتو ده او ایمان دي



د حیا او د میړانې سیال مو نه شته
خوېند ومیند و عمل تول مو د قران دي
د سپیروشوند و د ی جار شم خوږې موري
تا خودلې ښوي خصلت د مسلمان دي
په رښتیا ستا د شید و د پربرکت وو
تول تاریخ زمونږ ویارلي او روښان دي
د افغان پښتنې موري د اوعده ده
وروروڼې کړو ورك زمونږه نور خفګان دي
هرځای مونږ د خپل عزت حق ادعا کړو
سکوت نور مونږ ته ښکاریږي چې تاوان دي
خپله ژبه مې پښتو ده لیکم لولم
د ود د دستور زما تګلار د خپل کاروان دي
خدایه سم مونږ د پښتو اسلام په لار کړې
د دې لار نه زمونږ سر او مال قربان دي
د رو داتو یم سپین غره سره مې کور دي
جګ برجونه د کلا مې غټ نشان دي

---

## امیر کروړ

د پښتون له جلا لته جمال زیږي
تود که او ردې لوګی سوړ پیدا کوي
د پښتون دا یو کرو ږ خو په ځای پربږده
دا ادب داسې کروږ پیدا کوي

پښتو به وایو پښتو به لولو
پښتو به لیکو



## قومیت او ملت

"پاتې برخه" محمد افغان (اباسین)
پېښور / پښتونخوا

### د ملت مفهوم:

د وینې او نسل په لحاظ هیڅ یو ملت سوچه نه وي نو ځکه ملت د مختلف النسل افراد و یو مجموعې نوموي چې د ترکیب نه پس ئې د معلوم او محدود قوم شکل غوره کړی او یو حقیقي اصل منل شوي وي. خو و ړاندې یو یاد وونو شوه او هغه دا چې په ترکیبکې بېلا زما * یو عنصر غالب وي او د ادې لپاره چې مرکب د مشیت سر صم او مقصدي جوړشي د دې قسم ترکیب منشا * ومقصد د ملت د امتیازي تمدن بنا وي خو که چیرې د ترکیب تول عناصر په یو مقدار وي نو منشا * و مقصد په لاس نه راځي مثلاً که د اوبو مرکب فرض کړو نو او به د دوه برخې او کسیجن او یوې برخې هایډروجن نه جوړې شوې دي. په همدې شان هر مرکب د یوه توکي د غلبې مقتضي وي. د ا ځکه چې د طاقتونو مساوات بحران او د غره پیدا کوي خو پوري چې انفعالي نتیجه وي راوتې تر هغې به د ماشین پرزې په حرکت کې وي خو تو له مشینري له منځه لاړه نه شي. یو ه د تخم دانه هله زرغونیږي چې د ځمکې د طاقت په مقابله کې پاتې راشي وروسته د ځمکې فطري خواص هغه په و د ه کولو او لویید و مجبور کړي او منفعله نتیجه هماغه تخم شي کوم چې د ځمکې د طاقت سره د سازش کولو په وجه دې حد ته راورسید.
دا د انجذاب قانون دی. پدې کې چې کوم جبر محسوس دی هغه بیخي فطري دی پدې یقین کول پکار دي هر څیز چې ابتدائي په فطرت شوی وي خو ګټې هم مخالفت نه کوي او ګټې وکړي خپله هستي به فنا کړي. ملت یو قسم ملګرتوب او د ژوند د کشالو د هوارې په مقصد یو قرار داد او تړون دی که چیرې دا تړون په فطري اصولو بنا * نه وي کوتلي او پائید ار نه پاتې کیږي. دا تړون د معنوي ښیګړو تمثیل کوي او د احساس د خلپکې نه وي. د ذکر شویو توضیحاتو په رڼا کې دا حکم کیدای شي چې پدې لاره کښې څه نور ملحوظات لتول به د وه حالاته لري خپل اغراض او مقاصد حاصلول به ئې د خوف او ویرې حالت دی.
د قوم او ملت د غلطې په وجه پردې مغرضانه لمسونې او تحریکات لا زما * وي خود قوم او تولنې بنیاد ونه له بیخه ونړیږي او یا دا چې د ارن اشخاص



د منفي ملحوظاتو په لټون پسې وي او د هغو د بحراني نتیجو عکاسي کوي د یته مضرا حتیاط وائې. چې نیت او اراده تعمیري وي د خوف او د ار هیڅ سوال نه پیدا کیږي. بل دا چې هغه احتیاط چې فطري اصولو ته شاکوي د ګټې نه ئې تاوان زیات وي. او س مونږ د ا سوال کوو چې د "جز" د خطروېره به زیاته وي که د "کل"؟.
**د بغاوت خطر:** یو هم او ځیرك خلك د مغلوب په مقابله کې د غالب د حقوقو او حدودو نفي نه کوي. بدلون او تحول د زماني جبر دی خو ملت به د ملت په حیثیت د دغه سیلاب د تل نه مرغلرې راو باسي. هسې نه چې د زماني د تحول په نامه د اغراضو ښکار شي. بدلون او تحول به ملي او قامي تشخص برقرار ساتي بلکه دا چې پرمختګ او تحول پېښوا و تقلید ته نموېل کیږي چې یو ملت د شکل په لحاظ کټ مټ د بل په څیر شي او نه خو تحول څه په کاسه کې تیاره ماته کړې شوې ډوډۍ ده چې بې تکلیفه به خوړلې شي. دا کار د مسلسل جد و جهد مقتضي دی حال دا چې تقلید نه بدلون او تحول دی او نه د مثبت جد و جهد پیلامه. هغه تحول چې ملي تشخص پرې زیانمن کیږي په حقیقت کې په شربت کې د زهرو ځنبل دی.
هر انسان د دې قابلیت لري چې خپل ذهني صلاحیتونه په کار واچوي او یا د خپلو ضروریاتو د تکمیل په سلسله کې د نورو د ذهني ابتکاراتو نه استفاده وکړي که د تقلید لاره خلاصه همدغسې خلاصه پرېښود ل شي د قام و ملت تاریخ به دغسې کسان محاکمه کړي ځکه تقلید یو ماد ي رحجان دی. مادیت هله خپل تجرد تمثیلوي چې په انسان باندې د هغه د حیوانیت احساس غالب شي ښکاره ده چې حیوانیت خپله جذبه سړوي هغه دې ته نه ګوري چې جایز څه وي او نا جایز څه ئه وائې د استحصال ابتداء د همدې ځای نه کیږي او چې د استحصال بازار ګرم شي نو د تجارتي تقاضو رواج به قایم شي تجارتي چارې صرف په مفاد بنا * وي پدې لاره کې د خپل او پردي ملحوظات معمولاً * نه وي.

### تمدن:

انسان په فطري لحاظ مدني الطبع دی. او د انفرادي ژوند نه اجتماعي ژوند زیات خوښوي چونکه په اجتماعیت کې افراد یو به بل تمرکز دي او د یو بل د ذهني صلاحیت نه مستفد شي د دغه ذهني صلاحیتونو تجربي

# نوی زېری

خبریال: عبدالنصیر بیتوړی

د پښتنو ټولنیزا ولسولیزګوند هرکال د پښتنود یووالی ورځ (۱۲) نوامبر په مختلفو ښوکی لمانځی پدی ترځ کی د پښتنو د یووالی د ورځی په مناسبت پدی کال یعنی 1995 کی د نوامبر په شلمه نیټه په پریس هاوس بن کی مطبوعاتی کنفرانس ورکړ مطبوعاتی کنفرانس ته افغانی اوبهرنی ژورنالستان راغلی وو. د ژورنالستانو پوښتنوا وسوالونوته د ګوند له خوا د تاکل شوی هیئت (. د پښتنود ټولنیز اولسولیز ګوند د دارلانشاء مشر ښاغلی ډاکترشیرافضل ګردیوال د مشرانود جرګی غړی ښاغلی ډاکتر ګل حسن ولیزی د ګوند د وهم مرستیال ښاغلی محمد شیرین ګردیوال

د ګوند جنرل سیکرټری ښاغی هدایت الله خان بنګش )لخوا ځوابونه ورکړل شول. او د دی ورځی په مناسبت لیکل شوی پریکړه لیک ژورنالستانو اوحاضرینو ته ولوستل شو.



په عکس کی له ښی خخه چپ ته محمد شیرین ګردیوال هدایتالله بنګش ډاکترشیرافضل ګردیوال ډاکترګل حسن د ځوابونوورکولوپه حال لیدل کیږی



د پښتنود ټولنیزا ولسولیزګوند د سیاسی چارو مشر ښاغلی ډاکتر محمد صابر مومند په روان کال کښی پښتونخواته سفر کړی وو ده په پښتونخوا کی د پښتنو د سیاسی او قومی مشرانو سره لیدنی کتنی اود نظریو بدلون کړی دی اوبیرته المان ته رارسیدلی دی.

**ویسبادن:** د پښتنود ټولنیزا ولسولیزګوند د ناروی د څانګی مشر ښاغلی حاجی محمد نادر سرشار المان ته راغلی وو ښاغلی سرشار د پښتنود ټولنیزا ولسولیزګوند د مشر ښاغلی ډاکتر کبیر ستوری اود مشرانود جرګی د نورو غړو سره لیدنی کتنی وکړی

همدا راز د پاکستان د قومی اسمبلی معبر ښاغلی ارباب محمد جهانګیر خان خلیل ارباب دوست محمد خان خلیل، قومی مشر ښاغلی احمد خان اخکزی، د ناروی څخه د دعوت د ورځپانی موسس او مسؤل چلوونکی محمد طارق بزګر د ازبکستان د راډیو د پښتو خپرونی مشر ښاغلی هماګایف د اولسی ښیګړی (کراچی) د مشرانود جرګی غړی ښاغلی ماموند ښاغلی سردار محمد هارون اصفی د انګلستان څخه ملی سوداګر ښاغلی حاجی عبدالظاهر دوفا مشر ښاغلی پوهاند عبدالرسول امین ښاغلی استاذ باجوړی ښاغلی استاذ فضل

په امریکا کی د افغانی کلتوری ټولنی د مشرانود جرګی غړی ښاغلی محمد حسن شیرزاد په بیلا بیلو وختونو کښی المان ته راغلی او د پښتنو د ټولنیزا ولسولیزګوند د مشر اود ګوند د مشرانوجرګی د نوروغړو سره لیدنی کتنی اودنظریو بدلون کړی دی.

**بلجیم:** د پښتنود ټولنیزا ولسولیزګوند د بلجیم څانګی په ۱۹۹۶/۱۱/۱۲ نیټه د پښتنود یووالی ورځ د یوی غونډی په ترځ کی ونمانځله د پښتنود یووالی د ورځی پدی غونډه کی پښتنو په ګڼ شمیرکی برخه اخستلی وه د غونډی مشری د بلجیم د څانګی مشرښاغلی رحمان بریالی کوله غونډه د حاضرینوپه ښینا اورولو او شعرونو ویلو او د برخه والو په ولولو سره پای ته ورسیده.



**سوات - پښتونخوا:** په خواشینی سره مو خبر اخیستی دی چی قومی مشر ښکلی خان په سوات کی په حق رسیدلی دی د پښتنوټولنیزا ولسولیزګوند د ښکلی خان مرینه یوه ضایعه بولی اود اروا ښاد د کورنی غړو او خپلوانو سره پدغه غم کی ځان شریک ګڼی اود خدای بخښلی روح ته دوعا کوی روح دی ښاد وی.

**پیښور:** د پښتنو پوهنتون پخوانی رئس عبدالعلی خان په پیښورکی د دی دونیا څخه سترګی پټی کړی دی د پښتنو ټولنیزا ولسولیزګوند د خدای بخښلی عبدالعلی خان روح ته دوعا کوی او د ده هلی ځلی چی د قام او ولس د سوکالی دپاره ئی کړی دی ستائی اود اروا ښاد د کورنی د غړواوخپلوانوسره پدغه غم کی ځان شریک ګڼی اوکورنی اوخپلوانو ته د لوی خدای ج څخه صبرغواړی روح دی ښاد وی.

**پیښور:** د پښتونخوا خبریال له پیښور څخه خبررا کړی چی د پښتو نامتو ادیب او لیکوال سیدمهدی شاه پاچا په حق رسیدلی دی. د پښتنو ټولنیزا ولسولیزګوند د خدای بخښلی مرینه نه جبران کیدونکی زیان ګڼی او خدمتونه ئی ستائی. د پښتنوټولنیزا ولسولیزګوند د اروا ښاد د کورنی د غړوسره پدغه غم کی ځان شریک ګڼی او روح ته ئی دوعاکوی روح دی ښاد وی.

**پیښور:** په خواشینی سره مو خبر اخستی چی د پښتو ستر شاعر، انځورګر، لیکوال، ادیب او فلسفی خان عبدالغنی خان د دی دونیا څخه سترګی پټی کړی. انالله وانا الیه راجعون د پښتنو ټولنیزا ولسولیزګوند د مرحوم غنی خان مرینه پښتنی نړی ته یو نه جبران کیدونکی زیان ګڼی اوپه دغه غم کی د هغوی د کورنی د ټولو غړو اوټولو پښتنو سره ځان شریک ګڼی اود خدای بخښلی روح ته دوعا کوی. روح دی ښاد وی.

> شګفته کړه لکه لمر لګدے هرچاته
> چی په تګ دی سیاپوش تمام جهان شی.
> «کاظم خان شیدا»



**مونشن ګلاډباخ:** د پښتو نامتو لیکوال کاندید اکاډمیسن محمد صدیق روهی د ۱۹۹۶ کال د می د میاشتی په ۲۱ نیټه د جرمنی په مونشن ګلاډ بخ کی لدی فانی دونیا څخه سترګی پټی کړی د پښتنود ټولنیزا ولسولیزګوند مشراود مشرانو د جرګی نورو غړو د خدای بخښلی محمد صدیق روهی د جنازی او فاتحی په مراسموکښی د مونشن ګلاډ بخ په ښارکی ګډون کړی وو. د پښتنوټولنیزا ولسولیزګوند د ده هلی ځلی د قام او وطن د سوکالی او ابادی په لاره کی وستایلی او د اروا ښاد روهی مرینه افغان ولس ته یو نه جبران کیدونکی تاوان بولی اود اروا ښاد روح ته دوعا کوی پدغه غم کی د ده د کورنی د غړوسره ځان شریک ګڼی. روح دی ښاد وی.

**پیښور:**

د پښتونخوا خبریال د پیښور څخه خبررا کړی چی د پښتو ژبی خوږ ژبی شاعر او ادیب خیبر اپریدی د وریښی شوی ناروغی له امله د دی فانی دونیا څخه سترګی پټی کړی دی د پښتنو ټولنیزا ولسولیزګوند د خیبر اپریدی مرګ د پښتو ادب ته لوی تاوان ګڼلی او د ده د کورنی غړو، خپلوانو او دوستانو ته صبر جمیل غواړی او ځان ورسره پدغه غم کی شریک ګڼی او روح ته ئی دوعا کوی. روح دی ښاد وی.

**پیښور:** د پښتو خوږ ژبی نامتو سندرغاړی ګلنار بیګم په پیښور کی په حق رسیدلی ده. د پښتنوټولنیزا ولسولیزګوند د دغه نامتو خوږ ژبی سندرغاړی مرګ د پښتو ادب، هنراوموسیقی په برخه کی یوه لویه ضایعه بولی اود ګلنار بیګم د کورنی غړو خپلوانو او مینه والو ته د لوی خدای ج څخه د زړه صبرغواړی او خواخوږی ورسره ښکاره کوی.

> حمزه د یر مسلمانان شته په دنیا کی هم کافرشته
> نه آشنا د هغه کس یم چی روښ ئی د انسان وی
> «حمزه بابا»

## انګلستان :

د پښتنود تولنیزا ولسولیزګوند مشرډاکتر کبیرستوری دګوند د کونیو چارو مشر خان محمد مبارز څاپی، او دګوند غری ببرک دقیق د ۱۹۹۵ کال دسپتمبر په میاشت کی دخان بابا ولی خان دناروغی دپوښتنی لپاره لندن ته تللی وو.
دوی د خان بابا دصحت دناروغی دپوښتنی سره په خنګ کی دافغانستان اود پښتنو په موجوده صورت حال خبری اتری او دنظریو بدلون هم وکړ.



په عکس کی دښی خخه چپ ته ډاکتر کبیرستوری خان بابا ولی خان ببرک دقیق او خان محمد مبارز څاپی لیدل کیږی

تر څو پوری پښتون خپل قامی وحدت نه وی حاصل کړی
تر هغی دپښتون قوم مشکلات او محرومی نه شی ختمیدی
او دیو قام دغړی په حیث دوئ احترام نه شی ګټلی.
له پښتون قامی وحدت څخه. «خان لالا محمد افضل خان»



## «باچا خان او خدای خدمتګاری»

داکتاب دخان بابا (ولی خان) لخوا په دوه توکه کی لیکل شوی دی چی دخدای خدمتګار دغورځنګ بنسټ ایښودونکی (بانی) باچا خان وینا وی راجمع شوی دی چی دحقیقت او عدم تشدد دنظریو زیرمه ده.
دا کتاب دلوستلو وړ دی اود هراړخیزه معلوماتو له امله ډیر اهمیت وړ دی.

## «ژوبل احساس»

ژوبل احساس دښاغلی خان محمد مبارز څاپی دشعرونو مجموعه ده چی په کال ۱۹۹٦ ع کی چاپ شوی چی تر ون ئی دهغه پښتون فرهنګیالی په نامه چی دخپل ژوند د زیاته برخه ئی دپښتو ژبی دفرهنګ دبډای کولو کار ته وقف کړی ده شوی دی. دشعرونو دا ښکلی مجموعه دحقایقو ډکه او له هراړخه دلوستلو وړ ده.

خان به وینی کړو هری خواته هری خواته رقیبان ری
یو په بل موسره وژنی وائی خپل یو غلیمان ری
«سترمشر احمد شاه بابا»

## «زموږ حال»

هسی رنګ د زمانی بدل معلوم شی
که د قتل طریقه او یا شبخون هم
دلته جګ او ازد چاا وریدی نشی
شنوا غوږونه ئی نه اوری او کوږ هم
لکه شمع په خوځله ئی سرغوځ شی
چی خولګد لتمژبه وروړا وپښتون هم

«میاروښان خادم»
- کانادا -




## -ویر-

ببرک «دقیق»

ما په دی دونیا کی خلکه ډیری سختی ولیدی
عام قتل می ولید و سری وینی می ولیدی
ما کوچنی ماشوم چی په سرو وینو کی ډوب ولیدو
هیرمی انسانیت شو دوحشت صحنی می ولیدی
ما چی په ژړا دګلاب خوا کی بورا ولیدو
جو ړد وینو رود و دسیلاب چپی می ولیدی
ما چی بوره مور دځوانیمرګ په ژړا ولیدو
یادراته چنګیزشو دچنګیز دوری می ولیدی
ما چی دورور ی بیغام ددهٔ دخولی نه واوریدو
شوم ګوته په غاښ چی دادده نخری می ولیدی
اوښکی می په سترګوکی شوی وچی بهیدلی نه
زړه می سور په وینوشو چی سری قطری می ولیدی
سرمی جګ له خاوروکړ (دقیق) ته به فریاد وکړم
خپل ویر رانه هیر شو چی دده اوښکی می ولیدی



ستا دعشق له وینو ډک شول ځیګرونه
ستا په لاره کې بایلي ځلمی سرونه
د ډیلی تخت هیرومه چې را یاد کړم
زما دښکلی پښتونخوا دغرو سرونه
« احمد شاه بابا »




که سپوره وي که پوره وي نو په شریکه به وي
﴿باچا خان﴾

Das Brot, ob belegt oder trocken, wird unter allen gemeinsam aufgeteilt.
( Batscha Chan )

Buttered or unbuttered bread will be common.
( Bacha Khan )